مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۱۲/۲۵

# کرســـمس!!

که کرسمس د پیغمبر د زیږیدو او خوشحالی ورځ وی ــ نو مبارک موشه
که دغــه ورځ داســارت نه د خـلاصـــی ورځ وی ــ نو مبارک موشه
که په دی ورځ د یوی پاکی مور له پاکه نسه
که په دی ورځ روح القدُس ځنی جوړ شوی انسان
که په دی ورځ د فزیکی پلار له وجود نه پرته
د بنیادم کورله ښیګڼي ته راغلی انسان
د شیطانت سره د جنګ او د جګړی په منظور
د پیغمبر په وظایفو ګمارلی انسان
زمونږ نړی ته وی راغلی انسان
د لوی الله (ج) د فرمانونو سره
د محمد(ص) د بشارت د خبرونو سره
نو بختوره ورځ ده، د خوشحالی ورځ ده ـــ شه مبارک تاسو ته
د ا د بنـده د بنده ګی نه د خلاصی ورځ ده ـ شه مبارک تاسو ته
دا د مســیح(ع) د پیدایښـت ورځ ده
دا د مریمـی (ع) د پاکی او د پایښت ورځ ده
په همدی ورځ په دی نړی کی
د ژوندی عیسی (ع) ظهور شویدی
چی وظیفی نه وروسته پسوله شوی عیسی (ع)
را ژووندی شوی، اسمانو ته تللی
په همدی ورځ به بیرته بیا راځی
نو د خوښی دا ورځ دی، شی مبارک تاسو ته ـــ شه مبارک تولو ته

دسمبر/۲۲/۲۰۱۸
تورنتو ـ کاناډا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بنی پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ